مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۱۲/۱۵

# شملې

د پښتنو جګو شملو پسې ځم
لکه پتنګ د اور شعلو پسې ځم

څوک مېخاني ته څوک جومات پسې ځي
څوک په نسب او څوک په ذات پسې ځي
زه د غېرت لوړو جذبو پسې ځم
لکه پتنګ د اور شعلو پسې ځم

فرض يې ګڼمه چې مشران ستايمه
د تېر وختونو تېر غازيان ستايمه
د هغو ښکلو فلسفو پسې ځم
لکه پتنګ د اور شعلو پسې ځم

د زړه په وينو يې تصوير جوړوم
ښکلي رنګونو له بهير جوړوم
زه د رنګونو سلسلو پسې ځم
د پښتنو جګو شملو پسې ځم

پاس په اسمان ماه تابان ځلېږي
لاندې په ځمکه به افغان ځلېږي
د روڼ قانون او د جرګو پسې ځم
لکه پتنګ د اور شعلو پسې ځم

مصطفی پسرلی
15/12/2018



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ